# د مجاهدینو دوره

کله چي د ثور کودتا را منځته سوه د داود خان لومړنی جمهوریت ړنګ سو . یو شمېر سیاسي کسان چي د خلقي نظام له قدرت سره د رسېدو مخالف ول پاکستانه ته مهاجر سول. دوی په پاکستان کي له هغو کسانو سره یو ځای سول کوم چي د داود خان د لومړي جمهوریت په وخت کي لا پاکستان ته مهاجر سوي ول. یو شمېر دیني عالمان او بنې پلوه کسان هم چي کمونستي حرکتونه ئې د هیواد په ګټه نه بلل پاکستان او ایران ته مهاجرت سول. هلته ئې د خلقیانو پر ضد سیاسي ګوندونه جوړ کړل او د خلقي نظام او شورویانو پر ضد ئې جهاد پیل کړ. د دغو ګوندونو له جملې څخه هغه لوی ګوندونه لکه:

١ ـ د اسلامي انقلاب حرکت ګوند چي مشر ئې مولوي محمد نبي محمدي وو . ١٣٥٥ ل.

٢ ـ اسلامي حزب چي مشر ئې ګلبدین حکمتیار وو . ١٣٤٨ ل.

٣ ـ د اسلامي جمعیت حزب چي مشر ئې برهان‌الدین رباني وو ١٣٥٥ل.

٤ ـ د ملي نجات جبهه چي مشر ئې صبغت‌الله مجددي وو ١٣٥٧ ل.

٥ ـ د افغانستان د ملي محاذ ګوند چي مشر ئې سید احمد ګیلاني وو ١٣٥٧ ل.

٦ ـ د اسلامي حرکت ګوند چي مشر ئې شیخ محمد اصف محسني وو ١٣٥٨ ل.

پورتني جهادي ګوندونه یا د ثور تر انقلاب له مخه او یا د جهاد له پیل سره یو ځای منځته را غلل. دغو جهادي ګوندونو د مجاهدینو په نامه د کمونستي هیواد او په خاصه توګه د شوروي په وړاندي جهاد کاوه.

کله چي شورویانو افغانستان پرېښود د مجاهدینو یو شمېر مشرانو لکه مولوي محمد نبي او مولوي خالص نور جهاد پرېښود. کله چي ډاکټر نجیب الله استعفا ته اړ کړل سو او د حکومت چاري ئې پرېښودلې ور سره یو ځای ګلبدین حکمتیار، برهان‌الدین رباني او صبغت‌الله مجددي افغانستان ته د حکومت د نیولو پر سر موافقې ته و رسېدل. دوی دا ډول موافقه و کړه:

١ ـ لومړی به صبغت‌الله مجددي دوي میاشتي د حکومت چاري پر سر اخلي.

٢ ـ بیا به برهان الدین رباني څلور میاشتي د چارو واګي پر غاړه اخلي او په دغه وخت کي به د یو نوي نظام لپاره برابروي.

٣ـ بیا به ګلبدین حکمتیار قدرت ته رسیږي.

# صبغت الله مجددي

**صبغت‌الله مجددي** په ۱۹۲۶ م کال کې زېږېدلی دئ. لوړې زده‌کړې ئې په کابل پوهنتون کې کړې دي. نورې زده‌کړې ئې د مصر هیواد په الازهر پوهنتون کې کړې دي. هیواد ته تر را ستونېدو وروسته د کابل د حبیبیې په لېسه کې د ښوونکې په توګه په کار بوخت سو او بیا وروسته په کابل پوهنتون کې استاد سو.


صبغت الله مجددي

دی د داود خان د منځ ته راتلو سره سم له هیواد څخه و ووت او د ډنمارک په هیواد کې ئې د کوپنهاګن په ښار کې ژوند پیل کړ.

په ۱۹۷۹م کال کې کله چې شوروي ځواکونه افغانستان ته داخل سول د جهاد لپاره پاکستان ته ستون سو. هلته ئې د اسلامي نجات د ملي جبهې په نامه یو حزب جوړ کړ چې دی ئې مشر وو.

صبغت‌الله مجددي د ډاکټر نجیب‌الله تر استعفا وروسته د مجاهدینو د یوه تړون له مخې په افغانستان کې د اسلامي دولت د لومړني اولسمشر په توګه دنده پیل کړه.

ده د هغه تړون پر بنسټ تر دوو میاشتو پورې د افغانستان چارې پر غاړه واخیستلې، چې بیا تر ده وروسته برهان‌الدین رباني اولس مشر سو. مجددي د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ځان له سیاست څخه ګوښه کړی وو. د ۲۰۰۱ م کال د اوکتوبر په میاشت کې امریکا پر طالبانو بمبارۍ و کړلې او هغوی ئې له قدرته لیرې کړل او د جرمني د بُن په ښار کې ئې د افغانستان لپاره د یوه نوي نظام خښته کېښېښوده. د دغه حکومت مشر ئې حامد کرزی و ټاکی. افغانستان ته یو نوی اساسي قانون و لیکل سو. په د ۲۰۰۳ م کال د ډیسمبر په میاشت کې د افغانستان د اساسي قانون له مخې مجددي د لویې جرګې د ریس په توګه و ټاکل سو.

پوښتني :

۱ ـ کله چي صبغت الله مجددي د داود خان د جمهوري رياست په وخت کي له افغانستان څخه و ووت نو ولي بيا په ۱۹۷۹ م کال کي پاکستان ته را غی ؟
۲ ـ صبغت الله مجددي د چا له خوا او څرنګه قدرت ته و رسېدی ؟
۳ ـ ولي صبغت الله مجددي دوي مياشتي ريس جمهور وو ؟ ولي ده د چارو واکي برهان الدين رباني ته ورپرېښودلي ؟
۴ ـ صبغت الله مجددي تر جهاد وروسته څه وخت د يو څه مودې لپاره له سياست څخه ځان و ايست ؟
۵ ـ صبغت الله مجددي اوس په ۲۰۱۰ م کال کي څه مشغوليت لري ؟

# برهان الدين رباني



برهان الدين رباني

برهان الدين رباني په ۱۹۴۰م کال په بدخشان ولايت کي زېږېدلی دئ . وروسته تر هغه چي د ابو حنيفه په دارالشريعه مدرسه کي ئې خپلي زدکړي تر سره کړلي په کابل پوهنتون کي ئې حقوق و لوستل . په ۱۹۶۳م ۱۳۴۲ ل کال کي د کابل پوهنتون څخه فارغ سو او هلته ئې پدغه پوهنتون کي د استاد په توګه دندي ته دوام ورکړ .

په ۱۹۶۶ م کال کي ئې د مصر په هيواد کي د الازهر په پوهنتون کي په لوړو زدکړو پيل وکړ . په ۱۹۶۸م کال کي له هغه پوهنتون څخه فارغ سو .

په ۱۹۷۲م کال کي د اسلامي جمعيت ګوند مشر سو .

برهان الدين رباني د مخني قرارداد له مخي په ۱۹۹۲م کال کي کله چي د صبغت الله مجددي د حکومت دوي مياشتنۍ دوره سر ته و رسېده د چارو واکي په لاس کي واخيستلي . ده هم بايد په دغو څلورو مياشتو کي يو نظم او انتظام را منځته کړی وای او تر هغه وروسته ئې د چارو واکي ګلبدين حکمتيار ته پري ايښي وای . رباني صاحب نه کوم انتظام جوړ کړای سو او نه ئې د هغي مخکنۍ پريکړي په اساس چاري و ګلبدين حکمتيار ته پرېښودلي.

برهان‌الدين رباني د يوي شورا د را غونډولو له لاري ځان د هيواد اولس مشر و باله او خپلي دندي ته ئي د له مخنۍ پرېکړي خلاف دوام پسې ور کړ . د افغانستان اردو ئي وران کړ او نظام ئي د خپلو مجاهدينو له خوا کنټرولاوه .



احمد شاه مسعود

د برهان‌الدين رباني د دغي دوري د دفاعي چارو وزير احمد شاه مسعود وو . برهان‌الدين رباني د بيرغ رنګ زرغون ، سپين او تور ته واړاوه . ده تر هغو پوري چي طالبانو کابل نياوه د چارو واکي په لاس کي لرلي .



د رباني صاحب دغه کار د ګلبدين حکمتيار حوصله نوره پای ته و رسوله . هغه وو چي د ده او ګلبدين حکمتيار تر منځ خونړۍ جګړي را پورته سولي . د دغو جګړو له امله کابل ويران سو او په کابل کي په زرو انسانان و وژل سول .



ګلبدين حکمتيار

د برهان‌الدين رباني په دوره کي مرکزي حکومت ضعيف وو د هيواد زياتره ښارونه د مجاهدينو د مختلفو ګروپونو تر منځ ويشل سوي ول . د ښار د يوي برخي څخه چي به څوک په موټر کي بلي برخي ته تلل د پيسو په ور کولو سره به ئي اجازه تر لاسه کوله .

په دغه دوره کي امنيت نه وو . د خلکو مال او ناموس له خطر سره مخامخ وو . د خلکو ژوند نا ارام وو .

د رباني صاحب په دغه دوره کي يوه مطلقه ملک‌الطوايفي وه . هر چا او هري ډلي ځانته حکومتولي لرله . د زوررو او ټوپک سالارانو چي به څه زړه غوښته هغه به ئي کول . له همدي کبله دغه مجاهدين خلکو د ټوپکيانو په نامه بلل .

دغه حالت نور خلکو ته د زغملو نه وو . هغه وو چي طالبانو د ملا محمد عمر په مشري د کندهار د پنجوايي له اولسوالۍ څخه په يو څو تنو د دغه نظام په وړاندي قيام و کړ . دغه قيام له کندهاره پيل سو او د هيواد ۹۵ په سلو کي خاوره طالبانو و نيوله .

**پوښتني :**

۱ ـ برهان‌الدين رباني د کوم ګوند مشر سو او څه وخت ئې دا ګوند پيل کړ ؟

۲ ـ د هغه قرارداد له مخي چي د مجاهدينو تر منځ لاسليک سوی وو بايد برهان‌الدين رباني تر څلورو مياشتو وروسته قدرت ګلبدين الدين حکمت‌يار ته پرې ايښی وای . ولي برهان‌الدين رباني دا کار و نه کړ او پنځه کاله ئې پر کابل باندي جنګ و کړ ؟

۳ ـ د برهان‌الدين په پنځه کلنه دوره کي ولي خونړۍ جګړې پيښي سولې او نتيجه ئې څه وه ؟

۴ ـ د طالبانو په وخت کي برهان‌الدين رباني په سياسي ډګر کي کوم رول و لوباوه ؟

ليکونکی : عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
0046709384755